ریاست محکمه مرافعه ولایت بلخ

ریاست محکمه ابتدائیه شهری ولایت بلخ

آمریت تحریرات

شماره( ۵۷۹ ) ۳۱۰

مورخ 1444/2/14

به ریاست محترم دیوان مدنی

**موضوع : درمورد تفریق به سبب ضرر .**

مکتوب نمبر 984/1136 مورخ 1444/2/13 ریاست محکمه مرافعه ولایت بلخ به شرح ذیل واصل است..

متحدالمال نمبر (۱۹) مورخ ۱۰ / ۲ / ۱۴۴۴ بخش متحدالمال، آمریت تحریرات، ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان بشرح ذیل واصل است.

۸صبح
روایت نیروز، آینه امروز، نوید فردا

ویعد: د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤ، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په گډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـق په توسط د بعضي موضوعاتو په باره کې پریکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې څلورمه موضوع داسې وه:

((په کومه اداره کې چې د زوج او زوجې تر مینځ په مختلفو علتونو لکه: تعنت، نفقه نه ورکول، غیبوبت، اعتیاد مسکرات، عیب، بسبب ضرر).د محکمې لخوا د تفریق فیصله کیدل او څیني بیا اوس د امارت د محاکمو څخه د مختلفو علتونو په وجه تفریق غواړي په دغه دواړو صورتونو (دلومړي اداري کړي تفریق، اوس غوښتونکي تفریق ) کې چې محاکم څرنګه طریقه اختیار کړي؟.))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د څلورمي فیصلې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د تفریق د موضوع اول صورت (چې په کومه اداره کې د زوج او زوجې تر مینځ په مختلفو علتونو تفریق واقع سوی وي) مسئله تر کار لاندې ده کله چې توحید او تائید سوه مشکل به حل شي او که توحید نه سوه بیا به تصمیم ونیسو.

د تفریق دوهم صورت: ( زوجه اوس تفریق غواړي) لپاره دي د حنفي مذهب موافق د تفریق اسباب ولیکل شي او د هر سبب لپاره دي جواب ولیکل شي تر څو وروسته دي د مشرتابه محترم عالي مقام سره د هدایت اخیستلو په موخه شریک شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د څلورمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمال په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

مراتب تحریری فوق نقلاً غرض تعمیل هدایت مقام عالی واجراآت اصولی بشما اخبار شد.

مراتب تریری واصله فوق جهت اجراات بعدی به شما ارسال است.

باحترام

مولوی عبدالله جان ابوالخیر

رئیس دیوان جزا و معاون محکمه شهری